بسم الله الرحمن الرحیم

**نوم: اقبال صادق**

**د پلار نوم: عبدالمتین**

**پوهنځی: مدیریت انکشاف**

**د تیوری موضوع: دافغانستان څخه دعلمي کدرونو او ځوان قشر دمهاجرت مخنیوي په اړه تیوری**

**استاد: محمد نذیر ناصری**

# دافغانستان څخه دعلمي کدرونو او ځوان قشر دمهاجرت مخنیوي په اړه تیوری

له هرڅه دمخه غوا ړم  چې  یو څو پو ښتنې مطرح کړم:-

1.ولې له افغانستان څخه دعلمي کدرونه  او ځوان  قشر د تیښتې پرحال کې دي؟

2.له کوم وخت څخه  راپدیخوا د غه تېښته جریان لري؟

3.څنګه د دغه بحران مخنیوی کولي شو؟

اوس نو غواړم چې مستقیما د دغو پو ښتنو په رابطه چې پورته مطرح شوې دي وغږیږم.

**او دلومړي پو ښتنې په ځواب کې:** باید ووایم.چې دافغانستان یوه ډله خلک د ا قتصادي ستونزو او په هیواد کې د بیکاری د کچې زیاتوالي او د دې هېواد د جوړښت  پر وړاندي دعامه پوهاوي نشتوالي او دی ته ورته ځینې نور لاملونه هم شتون لري. چې  زمونږ ګران هیوادوال دملک پري ښودلوته اړ شوي دي. او یوه ډله نور هغه چې علمي کدرونه دي پردې اساس له هیواد څخه په تیښته دي. چې په هیواد کې د امنیت په لحاظ سره د مصونیت احساس نه کوي. اوبل په هغه برخه کې چې لازمه ده کار وکړي دکاري چاپیریال نه شتون اویا هم دمقرري چانس نه ورکول دي. اوددی ترڅنګ د ورستیو تحولاتو اغیزي اوهم دا سې یو شمیر نور هغه موارد دي چې په زیات شمیر علمي کدرونه مو په بهرنیو هېوادونو کې د هوسا ژوند په لټه کې د هیواد څخه  دتیښتې په حال کې دي.

**د دوهمې پو ښتنې په ځواب کې:** به دا سې  ووایم چې دغه دملک دترک کولو موضوع له ډیر پخوا څخه  شتون لري تقریبا دغه مهاجره تونه هغه وخت زیات شو چې  کله په هیواد کې سیاسي وضع ډیره خرابه شوه یعنې د(سردار محمد داود خان)د حکومت د چپه کیدو راپه دې خوا.خوبیا خصوصاً دغه پېښې له 1396.هـ.ش کال څخه  را په دېخوا بیخي زیاتي شوي او د اوج نقطه یې 1399_1400 ګڼل کیږي.

**د دریمي پو ښتنې په ځواب کې:** به داسي ووایم کومه چې زمونږ د تیورۍ اساسي برخه هم ده دغه بحران کوم چې نن ورځ زمونږ هېواد او هیوادوال ورسره مخ دي دمخنیوي لپاره یې باید لازم اقدامات ترسره شي او بل خصوص دهغه افراد و لپاره کوم چې د هیواد څخه تلو په حال کې دي، د دوي لپا ره باید کاري چاپیریال رامنځته شي همدارنګه روغتیایي آسانتیاوې،ترلوړې کچې د تحصیل زمینه سازي او دتعلیم او تربیی حق ورکړل شي. په هیواد کې د فساد مخه ونیول

شي،او د دي هيواد موجوده واكمنانو ته پكار دي چې خپلو هيوادوالو ته د ژوند په هر ډګر كې كه هغه دامنيت،سوله اوثبات او دژوند د معشيت په برخه كي او دى ته ورته نورو برخو كي خپلو هيوادوالو ته لازم خدمات ترسره كړي.همدارنګه په حكومتي چارو كې علمي كدرونو ته ځاى وركړل شي او تري لازمه استفاده وشي. په هيواد كې داسې پروژې په كار واچول شي ترڅو بيكاره خلكو ته كاري فرصتونه برابر شي. او همدارنګه په دولتي ادارو كې او همداسې نورو برخو كي ځوانانو ته ونډه وركړل شي. ځكه ځوانان د نوښت وړتيا لري او ننني نړۍ نوښت غواړي بدلون غواړي. او همدارنګه د دي لپاره چي د هيوادوالو د تګ مخنيوى وشي نو بايد خلكو ته د حب الوطن (دوطن والي)په اړه كنفرانسونه وركړل شي. ترڅو له وطن څخه لاړنشى. او همدارنګه افغانان ده خپل كور په ودانولو پيل وكړي. اوهغه سرمايه داران چې په بهرنيو هېوادونو كي يي پانګونه كړې ده بايد هغوي ته په داخل دهيواد كي په هغه برخو كي چي دوي يي غواړي پانګونه وكړي بايد دپانګونې زمينه سازي وشي.كه هغه د برق مسله وي،د ځاي او يا هم د امنيت و غيره............ يعنې په هره برخه كي ورته ډاډ وركړل شي.اوددي ترڅنګ ورته د هيواد په داخل او خارج كې ماركيټ او بازار موندنه وشي، او د دوي غو ښتنوته غو ږ ونيول شي او د مشكلاتو په حلولو كې ورسره لازمه همكاري وشي.نوپه دي اساس به هيوادوال د بهرنيو ملكونو ته دمهاجرت څخه راوګرځول شي، او د خپل هېواد په ودانولو به پيل وكړى.

# والسلام

# پاى